# بهرني او کورني پوځی ځواکونه د کابل له ښار څخه ووځی

بری پال

دکابل ښاریان په تیرو دریو لسیزو جګړو کې ډیرې ناخوالې ګاللي . د دې ښار هستوګن خلک د بیلابیلو ګوندي ، تنظیمي او طالبي واکمنیو په دوران کې له سختو ستونزو او کړاونو سره مخامخ وو.دپخواني شوروی اتحاد د پوځي یرغل په مهال د کابل ښار د شوروي پوځیانو په قرارګاه بدله شوه ، او د هغو د شتون له امله د کابل په ښار کې په لس هاوه ترافیکي پیښې رامنځ ته شوې چې یواځې د خیرخانې په سیمه کې د یو روسي ځغره والې واسطې د ټکر له امله په ۱۳۶۵ کال کې د یو ملي بس ۴۰ تنه سپرلی ووژل شوې .د روسی پوځي کتارونو تګ اوراتګ د ښار په ګڼو سیمو کې خلکو ته ستونزی پیدا کولې، د عسکري جلب و احضار تر نامه لاندی په کنډک تجمع کې د ځوانانو بندی کول او د جګړې لمړیو کرښو ته د هغوی استول، د کورونو تلاشۍ او پلټنې او په لس هاوه نورې ورته پیښې د پوځیانو په وړاندې یې د خلکو کرکه پیدا کړې وه .

په همدې ډول د تنظیمي جګړو په کلونو کې د وسله والو تنظیمي ډلو د شتون او د تنظیمونو د راکټي ډزو له امله ۶۵ زره د کابل اوسیدونکي شهیدان شول او په زرهاوه کورونه وران ویجاړ شول. د پنځه نیمو کلونو په موده کې داسې ورځ نه وه چې د کابل په ښار راکټونه ونه توغول شي . یوشمیرخلک چې له خپلو کورونو څخه بې ځایه شوی ؤ او په ښوونځیو او جوماتونو کې پناه اخیستې وه هان په نوموړو سیمو کې هم په امن کې نه ؤ. هر ټوپک مار او ټوپک ماره ډله چې د ښار په هره سیمه کې اوسیده د هم هغې سیمې هم پولیس ؤ ، هم قاضی ؤ ، هم واکمن ؤ او هم یې په خپلې سیمې کې په غلا ، شوټماریٔ اود خلکوپه راز راز ځورولو لاس پورې کاوه . خلکو سره دا ډاډ نه ؤ موجود چې د ښار له یوې برخې څخه بلې برخې ته له ځوسوه افغانیوسره تګ او راتګ وکړی، وسله والې ډلې به د کابل په ښارکې په «ولجه شویو ګاډو» کې ګرځیدل او په هر ګاډې د تنظیمونو د یو مشر عکس لګیدلی ؤ . د تنظیمونو د ګډې وډې واکمنۍ په لمړیو ورځو کې یواځې د کارته پروان په سیمه کې د څه ناڅه درې سوه هندو افغانانو کورونه او پیسې غلا شوې. په پاکو او باسیرته پیغلو تیری وشو او په سل هاوه نورې زړه بوګنونکي پیښې یو په بل پسې تکرار شوې .

د طالبانود واکمنۍ په مهال په خلکو هغه لوبې وشوې چې په تیرو واکمنیو کې یې ساری نه ؤ لیدل شوی ، ټوپک او د ټوپک واکمنی د عقیدې له پلټنی سره مل شو او ډیر خلک په داسې ویره کې ژوند کاوه چې کله به یې تصور هم نه کیده .

د طالبانو د واکمنۍ پای ، او د «دموکراتیک» نظام جوړیدل یوه بله څپه وه چې په اقتصادی ، ټولنیز، فرهنګی او سیاسی ډګرونو کی یې خلک او هیواد له نویو ننګونو سره مخامخ کړ.د آزاد اقتصادی بازار تر پوښښ لاندی د بې ثباته اقتصادی حالت رامنځ ته کول ،لوړه، ددولتې تصدیو لیلامول چې د افغانستان د خلکو مال ګڼل کیده . د دولتې کارکونکو ناانډوله او غیر عادلانه معاشونه ، تر ټولو غمجنه دا چې د هوایې بمباریو له امله د سل هاوه تنه افغانانو وژل کیدل اوپه لس هاوه نورې غم لړي پیښې چې دلته پرې خبرې کول نه غواړم . په یو څه چې د خبرو دلړیٔ اوږدول غواړم ، هغه ستونزی دی چې دکابل په ښار کی د کورنی او بهرنی پوځې چونیو او قشلو د شتون له امله رامیځ ته شویدی .سره لدې چې په دې هکله له پخوا څخه غلط اقدام تر سره شوی او پوځی لمړنی بنسټونه او عسکری قشلی او ګارنیزیونونه د کابل په ښار کې جوړشوی اوڅه د پاسه نیمه پیړیٔ د مخه د کابل ښار په شاوخوا کې ودانې شویدي . په داسی یو هیواد کې چې په تیره نیمه پیړیٔ کې هر وخت د پوځی کودتاګانو د کیدو امکان موجود ؤاو پوځې کودتاوې تر سره هم شوې ، دا له خطرو څخه ډک یو اقدام ؤ . دا به د دې لپاره ؤ چې واکمنان غوښتل د پلازمینې او ارګ په شاوخوا یو امنیتي کړیٔ جوړه کړي، خو د نوموړو پوځی ګارنیزیونونو شتون د کابل ښار او ښاریانو لپاره ډیر درانده تاوانونه رااړولی دي . د پوځی قشلو او ګارنیریونونو جوړیدل باید له ښارونو اوهستوګنو سیمو څخه په لری واټن کې تر سره شی ، ځکه د جګړه ایزو ماشینونو او وسایطو شتون او د باروتو انبارونه یوه شیبه هم له خطره څخه لری ندی . سره لدی چې په کابل کې پخوانی قشلی او ګارنیزیونونه هاغه مهال جوړې شویدی چې د کابل ښار پراختیا نه وه کړې او د وګړو شمیره هم د اوس په پرتله په ډیره ټیټه کچه کې وه ،خو اوس چې د کابل ښار بې سارې پراختیا موندلې او د وګړو شمیره هم څه ناڅه پنځو ملیونو تنو ته رسیږی او د هم هغویادو شویو پوځی قشلو شاوخوا هم په هستوګنو سیمو بدلې شوی دي .

د طالبانو د واکمنۍ له ماتې څخه وروسته د کابل په ښار یو ځل بیا یو بیساری پوځی سیوری راپریوت . وروسته له هغې نه چې وسله وال طالبان دکابل له ښاره څخه ووتل، د شمال تلواله خپلو سپکو او درندو وسلو سره د کابل ښار

ته ننوتل . په تلواله کې ټول هغه پوځی او تنظیمی ډلې شاملې وې چې له طالبانو سره په جګړه بوختې وې . د دوی په ننوتلو سره د کابل ښار ټولې حکومتی ودانۍ او د جمهوری ریاست نه نیولې تر ټیټو مدیریتونو پورې« ولجه» شوې او کابل د افغانستان د ګرځنده دولت په پلازمینه بدله شوه تر څو دبن په ښار کې د ماتو خوړلو طالبانو څخه پرته ، د ښکیلو وسله والو او تنظیمی ډلو د هوکړې په پای کې د افغانستان لپاره موقته اداره جوړه شوه او په اصطلاح په کابل کې د سیاسی ځواک د لیږد تشریفاتی مراسم تر سره شول.

د موقتې ادارې په جوړېدو سره د کابل ښار هغه امنیت مات شو کوم چې د طالبانو په واکمنۍ کې یې شتون درلود . د پوځې ډلو شتون د کابل په بیلابیلو ناحیو کې د خلکو تر منځ د ډار او ویرې فضا رامنځ ته کړه تر څو نړیوال دې هوکړې ته ورسیدل چې د آیساف یا سوله ساتو ځواکونو تر نامه لاندې افغانستان ته پوځې عسکر او جګړه ایز ماشینونه واستوی . د آیساف د ځواکونو په راتلو سره د کابل په ښار کې یو نسبی امنیت راغی سره لدی چې نوموړی ځواکونه د کابل د امنیت په هغه اړخ کې چې دخلکو ژوندانه پوری تړاو درلود ونډه نه اخیسته خو سره لدی هم هغه تبلیغات چې د نوموړو ځواکونو د پیاوړتیا په برخه کې شوی ؤ د وسله والو ډلو پرکړنو یې یو څه اغیزه وکړه خو دا اغیزه لنډمهالې وه ځکه دوی د کابل ښاروندیانو مالی او ځانی امنیت ته نه پاملرنه غیر قانونی وسله والو ډلو ته د تیرو کړنو شرایط برابر او جنایی پیښی ورځ په ورځ زیاتیدې . ترهاغه مهاله چې له یوی خوا د خلکو غبرګونونه اود نړیوالو فشارونورامنځ ته کیدل او له بلې خوا هغه دولتې لوړپوړی چارواکې چې د وسله والو ډلو مشرې کوله ، د خپلو دولتې لوړو کرسیو د ساتلو په موخه خپلی وسله والې ډلی یې یا د کابل له ښارڅخه وایستل او یا یې د ډی ، ډی آر پروګرام ته یو شمیر وسلې وسپارلی او د پولیسو په جوړیدو سره( د ډیرو کمزوریو سره سره ) د کابل په ښاریانو یو څه فشار کم شو . خو د هیواد په کچه د امنیتی مخ په خرابیدونکې حالت او د ځان وژونکو بریدونو پیل هغه نوی ګواښ ؤ چې خلکو ته یې اندیښنې راولاړې کړې. د بهرنیو ځواکونو ځای په ځای کیدل د کابل ښار یې په یو جګړه ایز ښار بدل کړ . په سل هاوه دولتی او غیر دولتی ودانۍ د دوی په قرارګاوو بدلې شوې او د ودانیو شا اوخوا یې کانکریټی او ډبرین دیوالونه راتاو کړل .

هره ورځ په سل هاوه کورني او بهرني پوځی ګاډي د کابل په سړکونو اود ښار د ننه تګ او راتګ کوی چې هم یې د ترافیکو بهیر لپاره ستونزې راولاړې کړی چې د ۱۳۸۵ کال د غبرګولی د اتمې ورځې پیښه د دغو ستونزو یوه دردونکې بیلګه ده او هم هغه ځان وژونکی بریدونه چې په دوی تر سره کیږی ، ملکی ښاریانو ته مرګ ژوبله اړوی چې د کابل ښاریان په تیرو شپږو کلونو کې د سل هاوو ځان وژونکو پیښو شاهدان دي . همدارنګه د کابل په ښار کې یوه بله ستونزمنه مسله د پوځی پریټونو تر سره کیدل دی چې له امله یې«د جشن» له رارسیدو څخه څو ورځې د مخه د کابل ښار ختیزه برخه او حضوري چمن ته ټولې غځیدلي لارې د ترافیکو او ملکې خلکو په وړاندې تړل کیږی .

د بصیرت خاوند افغانان دا تصور کولای شي چې د دغو پوځې پریټونو له امله زرهاوو کورنیو ته کومې دردونکې پیښې رامنځ ته کیږي . حال داچې خلک په دغو جشنونو کې ځانونه شریک نه ګڼي .

د کابل له ښار څخه د پوځې کورني او بهرنې ځواکونو وتل کولای شي د خلکو یو شمیر ستونزی له منځه یوسي .
د پوځې ځواکونو په ځانګړي توګه کورني ځواکونو لپاره دا یوه ښه موقع ده تر څو د هغو ملیاردونو امریکایی ډالرو مخه دې د کابل ښار څخه په لرې واټنونو کې د پوځې قشلو جوړولو ته راوګرځوي .

د ناټو سرمشریزه باید دغې ستونزې ته کوټلی پاملرنه وکړي او داسې پریکړه وکړي چې کابل ښار ته د بهرنیو ځواکونو د ننوتلو مخه ونیسي .جمهور رییس د خلکو هغه ستونزی چې د پوځې پریټونو راولاړیږی له هغو او پریږدي چې کابل په یو ملکي ښار بدل شي او د کابل ښاریان له ویرې او ډار پرته خپلو بچیانو ته یوه ګوله ډوډۍ پیدا کړي، که چیرې په رښتیا غواړئ د کابل د خلکو په امنیت کې ونډه ترسره کړئ نو دا ګز او دا میدان د هغو مافیایې کړیو مخه ونیسۍ چې د خلکو په اقتصادي ، سیاسي او ټولنیز ژوندانه باندې منګولې ښخې کړي.